Providence Schools

**د والد د رضایت فورمه**

# د مرکو، د زده کونکي د انځور او نوم کارولو لپاره د رسنۍ اجازه

د ټول تعلیمي کال په اوږدو کې، د پروواېډېنس عامه ښوونځي ګڼ شمېر پروژې، د زده کونکي کارونه، فعالیتونه، ساحوي سفرونه او هغه پېښې چې زموږ په ښوونځي کې رامنځته کیږي لمانځي.

کله نا کله به موږ ښایي د ورځپاڼو، کلني کتابونو، د ښوونځي یا تعلیمي حوزې ویب پاڼو، او په ښوونځي یا ټولنې کې د ښودلو لپاره انځورونه له مقالو سره وکاروو.

کله نا کله به د ورځپاڼو انځور اخستونکي او د ټلویزون کارکونکي ښایي له ښوونځي څخه لیدنه وکړي ترڅو له زده کونکو سره مرکې وکړي او د ښوونځي یا تعلیمي حوزې اړوند انځورونه واخلي یا نوې کیسې ثبت کړي. پدې ډول سره به، ستاسو د ماشوم نظریې یا انځور په ورځپاڼې یا د ټلویزون په ویډیویي کسټ کې څرګند شي.

خوبیاهم، موږ به ستاسو د ماشوم د انځور اخستلو، مرکې، ویډیو ثبت کولو ته ستاسو له اجازې څخه پرته اجازه ورنکړو.

*مهرباني وکړئ له لاندې هرې برخې څخه یو غوراوي وټاکئ او لاندې لاسلیک وکړئ.*

**د زده کونکي کار او انځور**

- هو، زه د پرووایډېنس ښوونځیو ته اجازه ورکوم چې د عامه مالوماتي موخو (د بېلګې په توګه د ښوونځي او تعلیمي حوزې ویب پاڼو، ورځپاڼو او داسې نور) لپاره زما د ماشوم کار د هغه له نوم او انځور سره څرګند کړي.
- نه، زه د پرووایډېنس ښوونځیو ته اجازه نه ورکوم چې د عامه مالوماتي موخو لپاره زما د ماشوم کار د هغه له نوم او انځور سره څرګند کړي.

**د زده کونکي مرکه**

- هو، زه اجازه ورکوم چې زما له ماشوم سره دي مرکه ترسره شي او د عامه موخو لپاره دي د هغه له خبرو اترو څخه یو څه چاپ یا په ویډیو کسټ کې ثبت کړي.
- نه، زه اجازه نه ورکوم چې زما له ماشوم سره دي مرکه ترسره شي او د عامه موخو لپاره به له دا ډول خبرو اترو څخه د یو څه چاپ کېدو یا په ویډیو کسټ کې ثبت کېدو ته اجازه ور نه کړم.

**د زده کونکي ویډیو کسټ**

- هو، زه اجازه ورکوم چې زما له ماشوم څخه دي په ویډیو کسټ کې ویډیو ثبت شي.
- نه، زه اجازه نه ورکوم چې زما له ماشوم څخه دي په ویډیو کسټ کې ویډیو ثبت شي.

د زده کونکي تخلص ______________________ نوم ______________________

د والد تخلص ______________________ نوم ______________________

د والد لاسلیک ______________________ نېټه ______________________